مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اسماعیل اړم پتیار
رالېږونکی: زمری کاسي

۲۰۲۱/۰۵/۱۴

نن اختر دی؟

نن اختر دی؟
نه پوهیږم چې په چا باندې اختر دی؟
آسماني تندر لویدلی په دې کلي خو محشر دی
نن اختر دی؟
ځمکه ژاړي آسمان ژاړي
سمه او غر کي انسان ژاړي
هر طرف ویر او ژړا ده
یو ماتم په لر او بر دی
نن اختر دی؟
نه پوهیږم چې په چا باندې اختر دی؟
آسماني تندر لویدلی
په دې کلي خو محشر دی
نن اختر دی؟
یوه کونډه خیرات غواړي
د بچو د ګیډې غم خوري
په طوفان کي د یخ ژمي
غوړولی یې خپل څادر دی
نن اختر دی؟
نه پوهیږم چې په چا باندې اختر دی؟
آسماني تندر لویدلی په دې کلي خو محشر دی
نناهتر دی؟
یو بې لاس او بې پښو هم
وهي چیغې خیرات غواړي
دا زما د زړه ټوټه ده
خواکي ناست زوی مي نهر دی
نن اختر دی؟
نه پوهیږم چې په چا باندې اختر دی؟
آسماني تندر لویدلی په دې کلي خو محشر دی
نن آختر دی؟ نن اختر دی؟
نه پوهیږم چې په چا باندې اختر دی؟
آسماني تندر لویدلی په دې کلي خو محشر دی
نن اختر دی؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یوه مور په بچې بوره
مخ وهي په کو کو ژاړي
یو یتیم یې خواکې پروت دی
ګریوان ځیرې سر ببر دی
نن اختر دی؟ نن اختر دی؟
نه پوهیم چې په جا باندې اختر دی؟
آسماني تندر لویدلی په دې کلي خو محشر دی
نن اختر دی؟نن اختر دی؟
نه پوهیږم چې په چا باندې اختر دی؟
آسماني تندر لویدلی په دې کلي خو محشر دی
نن اختر دی؟
په تغر د استبداد
رنګارنګ خواړه تیار دي
د مظلوم خواره کوډله کې
ناروغ پروت وږی نهر دی
نن اختر دی؟ نن اختر دی؟
نه پوهیږن چې په جا باندې اختر دی؟
آسماني تندر لویدلی په دې کلي خو محشر دی
نن اختر دی ؟ نن اختر دی؟
یوه ښځه ورکه شوې
دا څو ورځې له خپل کوره
پت عزت یې خپل ورکړی
په بدل کې د ډالر دی
نن اختر دی؟ نن اختر دی؟
نه پوهیږم چې په چا باندې اختر دی؟
آسماني تندر لویدلی په دې کلي خو محشر دی
نن اختر دی؟ نن اختر دی؟
یو ماشوم په منډو راغی
خلکو هلته مړی پروت دی
سر یې نشته په تنه کې
چا غوڅ کړی ترینه سر دی
نن اختر دی؟ نن اختر دی؟
نه پوهیږم جې په جا باندې اختر دی؟
آسماني تندر لویدلی په دې کلي خو محشر دی
نن اختر دی؟ نن اختر دی
ګورم وینو کې خلم پروت دی
ښکلی ځوان زمونږ د کلي
چا ویشتلی په مرمیو یې
سوری سوری ټټر دی
نن اهتر دی؟
نه پوهیږم چې په جا باندې اختر دی؟
آسماني تندر لویدلی په دې کلي خو محشر دی
نن اختر دی؟
دې هیواد کې اخترونه
اړمه ټول په غم لړلي
نه وطن کې څوک خوشحاله
نه خوشحاله په بهر دی
نن اختر دی ؟
نه پوهیږم چې په چا باندې اختر دی؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

آسماني تندر لويدلی په دې کلې خو محشر دی
نن اهتر دی ؟ نن اختر دی؟
اسماعيل اړم پتيار
۲۰۱۰/۱۰/۳۰ ع م
ملبورت استراليا

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ